زما حوض د يوې مياشتې واټن - په اندازه اوږد او پراخ - دی، اوبه يې د شېدو څخه سپينې دي، او بوی يې له مشکو څخه غوره دی

له عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: "زما حوض د يوې مياشتې واټن - په اندازه اوږد او پراخ - دی، اوبه يې د شېدو څخه سپينې دي، او بوی يې له مشکو څخه غوره دی، جامونه يې د اسمان د ستورو په څېر دي، څوک چې له هغې څخه وڅښي هېڅکله به تږی نشي".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د قيامت په ورځ به د ده لپاره يو حوض وي چې اوږدوالی به يې د يوې مياشتې واټن په اندازه وي او عرض به يې هم همدارنګه وي. او دا چې اوبه به يې په سپين والي کې له شېدو ډيرې سپينې وي، او دا چې بوی به يې پاکيزه او د مشکو له بوی څخه ډير غوره وي، او د هغه جامونه به په زياتوالي کې لکه د آسمان د ستورو په څېر وي، چا چې په هغو کوزو له حوض څخه څښاک وکړ نو هېڅکله به تږی نه شي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65030